# د افغانستان سره د آلمان همکاری
# مطبوعاتی خبر

## د افغانستان په شمال کې د ټیلیفوني مرستې کرښه (**۲۴۲۴**) وغزول شوه

مزارشریف، بلخ، د **۲۰۱۲** کال د اپریل د میاشتې **۲**مه نیټه –په دې وروستیو کې د افغانستان په شمالی ولایتونو کې د ټیلیفوني مرستې کرښه په کار واچول شوه. د دغې کرښې خدمتونه د بلخ، بدخشان، بغلان، کندز، سمنګان او تخار په ولایتونو کې کارول کیدای شي. د **۲۴۲۴** د شمیرې په دایرولو سره افغانې ښځې او نارینه کولای شي، پرته له دې چې دهغوی شمیره ولیدل شي، د حقوقي، رواني او مذهبي موضوعاتو په باب معلومات او سلا مشورې په لاس راوړي. د دغې شمیرې اړیکه وړیا ده او د هیواد په جنوبي او ختیزو برخو کې چې د **۲۰۱۳** کال راهیسې فعاله شویده د خلکو د ښه هرکلي سبب شویده. د المان او همدارازد هالند او فلند حکومتونو د **۲۵** میلیونو افغانیو په لګښت د نوموړي ټیلیفوني کرښې تمدید تمویلوي.

ښځې او نارینه چې د تاوتریخوالي یا د تاوتریخوالي د ګواښونو سره مخامخ کیږي کولای شي د ټیلیفوني کرښې له لارې مرسته وغواړي. هغوی ته د هغوی د حقونو په باب او دا چې په څه ډول هغه پلي کړي حقوقي سلامشوره ورکول کیږي. خو دیته هم پاملرنه کیږي چې اړیکي نیوونکو ته په دې اړه مشوره ورکړل شي چې څنګه خپل ځان وساتي او د هغوی د وضعې د سمون دپاره کومې لارې شته. سربیره پردې، هغوی ته معلومات ورکول کیږي چې د دوی په چاپیریال کې د چا سره د نیغې سلامشورې د ترلاسه کولو په باب اړیکه ونیسي.

په تیره بیا ښځې به د دغه خدمت څخه ګټه پورته کړي ځکه هغوی کله کله د خپل تګ راتګ او د کورنۍ د باندې د خپلو ستونځو د حلولو په لاره کې محدودویتونه لري. د افغانستان په شمال کې دکلیوالي سیمو اوسیدونکو دپاره مشورتي خدمتونو ته لاسرسی به اوس ډیر آسانه شي. ددې په ځای چې بل نږدې لوی ښار ته سفروکړي هغوی اوس په وړیا توګه د ټیلفوني مرستې د شمیرې په دایرولو سره ډیر وخت هم سپما کوي.

د افغان-المان د همکارۍ پروګرام د جندر د چارو مسئول ښاغلي عتیق اله عاطف په دې باب وویل: "په افغانستان کې د خلکو د حقوقي حقونو او هغو ته د لاسرسۍ تر منځ یو واټن لیدل کیږي. د ټیلیفوني مرستې کرښه د دغه واټن د له منځه وړلو سره مرسته کوي. دغه کار په تیره بیا د ښځو په مورد کې صدق کوي ځکه ښځې د نارینه وو په پرتله عدالت ته د لاسرسۍ د نشتوالي له امله ډیرې زیانمنې شویدي. د مشورې ګرځنده خدمت هغوی ته د دوی د حقونو د پوهیدلو او دا چې څنګه هغوی کولای شي د هغې نه ګټه واخلي د ځایي فرهنګ سره مناسبه لاره ورښیې".

د ټیلیفوني مرستې کرښه د **۲۰۱۳** کال په سر کې د افغانستان په ختیځه سیمه کې پیل شوه او د همدې کال د مني په موسم کې د هیواد جنوبي سیمې ته وغزول شوه. دغه خدمت چې د افغانستان د ظرفیتونو د پراختیا او پوهنې د سازمان (ACDEO) د یوه غیرحکومتی سازمان له خوا پلی شو د خلکو له خوا ورځنې د پاملرنې وړ هرکلی وشو. د **۵۰۰۰۰** تنو نه زیاتو کسانو نوموړې کرښه کارولې ده. د قانون د حاکمیت د ټینګښت پروګرام (RoL) د افغانستان شمالي ولایتونو ته د دغې کرښې د تمدیدولو دپاره مرسته کړیده او تمه لري چې لږترلږه په کال کې **۲۰۰۰۰** اړیکې د خلکو له خوا ترسره شي.

د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH اداره د آلمان د اقتصادی همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ) په استازیتوب د افغانستان د حکومت سره یو ځای په افغانستان کې د قانون د حاکمیت د ټینګولو په لاره کې کار کوي. د **۲۰۰۳** کال را په دې خوا دغه پروژه د افغانستان د عدلیې وزارت سره د ټولو خلکو دپاره عدالت ته د لاسرسۍ د تامینولو د هڅو په لاره کې مرسته کوي او دې موخې ته د رسیدو دپاره، عدالت ته د ډیر ښه لاسرسي او همدارنګه د عدلي او قضایي سکتور د کارکوونکو مسلکي ظرفیت ته د سمون ورکولو څخه ملاتړ کوي. په عین حال کې د خلکو د حقوقي خبرتیا د کچې په لوړولو کې مرسته کوي. د **۲۰۱۲** کال راهیسې، د هالند شاهي حکومت په کندز کې د نوموړې ادارې د قانون د حاکمیت د ټینګښت د پروژې د فعالیتونو، او د **۲۰۱۵** کال راهیسې د فنلند جمهورۍ د ښځو دپاره د عدالت د سمون د فعالیتونو ملاتړ کړیدی.

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de